# د يادونو مقبرو کښې

## (د کتاب او رباب زمانه)

٦

سعد الله جان برق

کله کله چې زۀ په شا وګورم نو حېران شم چې زمونږ په ژوند کښې څومره په لږه زمانه کښې خبره د کوم ځائے نه تر کوم ځائے پورې لاړله، يو هغه وخت ؤ چې د ډيوې په رڼا کښې به جمال د پښتو داستاني کتابونه وئيل او دا د ټولو نه لويه تفريح وه. هسې کله رباب او منګے او ورسره د هر چا مجلس خو تقريباً د هرې شپې کار ؤ او په ډېرو حجرو کښې به کېدو، ما هم يوه ورځ کوشش کړے ؤ، ټپه راته هم ياده ده چې:

د رب کرم چې په چا وشي

د ټپې دا اوله مصرعه مې چې ووې نو هغه د رباب استاذ د مټ نه ونيولم، وئيل پاڅه دا باقي نيمه ټپه بهر وکړه. ماله به په دې خبره ډېره غصه راتله، زما سم دم ډېر ښۀ او خوږ اواز ؤ، ما به چې کله ځان سره څۀ وئيل نو خپل آواز به راباندې ډېر خوږ لګېدو خو خلقو دا نۀ منله او زما پوخ يقين ؤ چې دا خلق دروغ وائي، اصل کښې دوي زما د خوش اوازۍ نه سوځي.

اکثر به ما او قلندر صيب هم خپلو کښې دا بحث کولو ځکه چې زما په شان په هغۀ به هم خپل اواز خوږ لګېدو، بلکې يو ځل ئې ووې چې ماته يحيٰي جان خان وئيلي دي چې ستا په اواز کښې خدائے خبر چې څۀ دي، څۀ د موسيقۍ ګرانه غوندې اصطلاح وه، پچ کۀ هائي پچ- بهر حال مونږ دواړه په دې خبره متفق وو چې زمونږ دواړو ډېر ښۀ اوازونه دي، خو دا اتفاق به زمونږ ترمېنځه تر هغه وخته ؤ، چې تر کومې به يو ځائے ناست وو چې بېل بېل به وو نو غالباً چې هغۀ به هم زړۀ کښې هغه خبره کوله، کومه چې به ما کوله چې مړه ستا څۀ اواز دے کۀ دے خو صرف زما اواز دے.

دا خو بيا ډېره موده پس چې کله ټېپ ريکارډر ايجاد شو نو ماته پته ولګېده چې هغه خلق ډېر په غلطه نۀ وو، کومو به چې ماته وئيل چې دا نيمه ټپه بهر وکړه او دا هم ماته پته ولګېده چې اصل کښې انسان کله په خپله څۀ سندره وائي نو خپل اواز صرف ٤٠ فيصده په غوږونو آوري او ٦٠ فيصده ئې د مرۍ او غوږونو په اندروني رګونو، نو ځکه ورباندې ښۀ لګي، ښه طريقه دا ده چې سړے خپل اواز ريکارډ کړي او بيا ئې واوري بيا کېدے شي چې اتيا فيصده خلق هېچرې هم خپله خُلۀ وازه نۀ کړي.

رحمت شاه سائل چې څۀ وخت مشاعره کښې

كلام آوروي نو خدائے شته چې زړۀ كښې مې ورته اكثر داسې كمينه غوندې حسد راپيدا شي او ووايم چې چرته مې په ټګۍ پرې رانجۀ وخوړلے يا مې په ډوډۍ كښې ورته د ګراموفون باجې ستنې وركړې خو د هغه ظالم اواز انداز او كلام دومره ښۀ وي چې زما دغه حسد او ارادې لكه د سېلاب څان سره يوسي.

خبره ګراموفون يعنې ريكارډې باجې ته هسې هم روانه ده او دغه تاريخي شے اوس ورک شوے هم دے نو پكار ده چې لږ ذكر ئې وكړم. دا به يوه بكسه غوندې وه چې د "لاک" مسالې نه جوړ شوے پلن غوندې داسې د عام تبخې د سُكړک هومره تور ريكارډ به پرې چورلېدو، دغه ريكارډ ته به ئې ككوړے او باجې ته د ككوړو باجه وئيله، دا باجه په چابۍ چلېده اول به ئې يو هېنډل غوندې ښۀ تاؤ كړو تاؤ كړو بيا به چې ريكارډ په چورلېدو شو د پاس نه يو بل شے چې پكښې به نرۍ ستن وه، كېښودلو باجه به تاوېده، ستن به د ككوړي په خاصو دائرو او لائنونو چورلېده او اواز به ترې راوتو چې اكثر به ډېر غېر انساني غوندې اواز ؤ، څكه چې چابي به زياته وه نو سندره به زر زر وئيلې شوه او چې كمه به شوه نو بيا به مو ښه فر د پې ښه ور....

مظفر د پېښور صحبت د مرغز عبدالله جان، خانزاده، مير احمد استاذ، سبز علي خان د هغه زماني مشهور ريكارډي مجلسيان وو او په ډيلي كښې د هز ماسټر وائس يا نوري كمپنۍ وې چې دا ريكارډونه به ئې تيارول او د كمال خبره دا ده چې لا هغه وخت بجلي هېچرته نۀ وه، دا هر څۀ به په بېټريانو كولے شول. د ككوړو باجه په وړومبي ځل زمونږ كلي ته كريم خان راوړې وه چې په خان مشهور ؤ او زمونږ د كلي اولنے ترقي پسند يا انقلابي ؤ. خان به په خپل خاص بېټک كښې باجه غږوله او هغه بېټک ته هر سړے ورتلے نۀ شو، د خان خاص خاص ملګري او يا د هغه خاصو ملګرو په سفارش به خال و خط خلقو ته دا سعادت په نصيب كېدو. د خان بېټک هم څۀ عام بېټک نۀ ؤ. د يو سر نه تر بله سره پورې په يو قطار او يو شان فرېمونو كښې د فلمي اداكارو او اداكارانو تصويرونه لګېدلي وو چې صرف كتے ورته هر چا شول خو ګوتې وروړل قطعي جرم ؤ. د خان بل شوق بهترين عطر لګول وو، كله به چې خان په لاره په سائيكل تېر شو نو تر ډېره وخته به په هغه لاره خوشبوئي خوره وه. باجه او عطر د خان شوقونه وو خو بيا وروستو ئې د خلقو په پُرزور اصرار د كاروبار شكل هم وركړے ؤ، هفته كښې يو ځل دوه به په بېټک كښې د باجې پروګرام ؤ، اتۀ آنې به هر كس وركولې. بيا ورو ورو ئې آؤټ ډور پروګرامونه په نورو حجرو كښې هم كول خو لس روپۍ فيس به ئې ؤ او د چا خاص سړي په سفارش به تلو. لس روپۍ هغه ورځو كښې د زرو روپو نه هم زياتې وې، څكه چې د خان سائيكل په شل روپۍ شوے ؤ او د هغه دور د نوي مرسيډيز يا پجارو مقام ئې لرلو. په ټول كلي كښې صرف دوه سائيكله وو، يو د خان او بل د يو ماسټر صېب.

تقريباً اووۀ يا اتۀ كسه د خان خاص سړي وو، دوي به ټک كار نۀ كولو، صرف د خان درباريان به وو او چې كله به ريكارډ ختم شو نو په دا مېنځ كښې

به دغه کسانو د خان، د هغهٔ د باجي او ریکارډونو صفت کولو. اول خو به ټولو په یو اواز وې خبر دې وي خان، خان مرګ دے مۀ وې، زنده باد اوسې خان، په بیعه دې واخستو خان او بیا به یره دا ریکارډونه بل چا سره نشته بې د خان نه. خان له سپېشل د ډیلي نه راځي او د باجې دا ستنې فېرنګیان هم نۀ شي پېدا کولے. بیا هم د باجې راج ؤ چې کلي ته ربړیو راغلو خو د ربړیو نه وړاندې د جمال د کتاب خبره لا پاتې ده.

نۀ یم خبر چې نورو کلو کښې به هم داسې وو او کنه خو زمونږ په کلي کښې د جمال کتاب خواني یو ډېر تاریخي شے ؤ.

زما پلار خو ډېر سخت دیني سړے ؤ، موسیقي او داسې نور تفریحي څیزونه ئې کفر ګڼل تر دې چې کله زۀ په وړومبي ځل د ربړیو یوه مشاعره کښې شامل شوم نو چا به ورته وئیلي وي چې کور ته ورغلم نو وئیل ئې مبارک شه دا یو ډمتوب درنه پاتې ؤ هغه دې هم شروع کړو. اخبارونه، رسالې خو د وړاندې هغهٔ سره په بلبک لستې یعني کفر کښې شمار وې. نۀ شم وئیلے چې زما د وجې ئې اخبارونه، رسالې بدې شوې او کۀ د اخبارونو، رسالو په وجه ئې ما سره ورانه وه.

خو زما ماماګان لږ غوندې ماډرن زمینداران وو، لویه حجره کښې به د ډیوې رڼا ته جمال اکثر کتاب وئیلو چې به پکښې د پښتو منظوم داستان امیر حمزه، الف لیلي، سیف الملوک، بدري جماله، بهرام ګل اندامه، د طلسمات قیصې او نور بې شماره منظوم کتابونه شامل وو. د جمال اواز هم ډېر ښۀ ؤ، کتاب به ئې روان هم وئیلو. په مېز به ورته ډیوه او کتاب پروت ؤ، ورسره خوا کښې به یو

وړوکي شکور کښې ګوړه پرته وه، شېبه نیمه پس به ئې وقفه کوله، ګوړه به ئې خوړه او د قیصې تشریح به ئې داسې کوله عن لکه چې دے په خپله د امیر حمزه په لښکر کښې شامل ؤ، دا معلومات به هغهٔ زباني ورکول چې د معدې کرب دومره خېټه وه چې په اوږو به ئې په شا را اړولې وه او د هغهٔ د پخلي دېګ دومره لوئے ؤ چې لوهارانو به پکښې مرمت کولو نو د یو بل د ځټک اواز به ئې نۀ اورېدو. لندهور بن سادان به د اسمان د لاندې ټیټ ګرځېدو د روئین پهلوان بدن د اوسپنې ؤ چې په بل هېڅ څیز هم مړ نۀ شو نو امیر حمزه صېب یو دېګ سیکه ویشوله او ګرمه ګرمه ئې په خُلهٔ کښې ور واړوله، د نوشېروان باچا د وزیرانو بختک او بزرجمهر عجیبه قیصې د عمروعیار او د هغه د زمبېل عجائبات د دې ټولو هغهٔ سره هغه تفصیلات هم وو کوم چې په کتابونو کښې نۀ وو، ډېرو خلقو کوشش وکړو چې د جمال غوندې په کتاب خوانۍ کښې شهرت او عزت حاصل کړي خو خوند ئې ونۀ کړو. په جمال مې مکمله د ماماګانو قبضه وه نو کۀ چا به بلې حجرې ته بوتلو نو د هغوي په اجازت به ئې بوتلو ځکه چې د هغهٔ ټول ضروریات به هم زما ماماګانو پوره کول.

د جمال پلار د پېریانو باچا ؤ، نامه ئې قسیم ګل وه خو په پېریانو باچا او حکیم صېب مشهور ؤ، د دمونو تعویذونو او چېلې پخولو کار ئې هم کولو خو بوډاګان یا نور داسې نیم زالي خلق چې "دکان" کښې به ئې سودا خلاصه شوې وه او غوایان به ورته "جغ" کښې ملاست وو، هغوي له به ئې د طاقت نسخې جوړولې او بعضو ته به ئې ښودلې هم خو هغه دومره ګرانې طریقې وې چې د چا به هم پرې

واره نۀ راتله. اکثر خو به په آوټ ډور وزټ ؤ، کلي په کلي به ګرځېدو او دغه د تعویذاتو او پېریانو پاڅولو کاروبار به ئې کولو.

نورو کلیو کښې په باچا صېب مشهور ؤ، تکه سره زېړه په غاړه کښې حمائل شریف (وړوکے قرآن چې غاړه کښې حمائل وي) او یوه کثیر المقاصد تیلۍ به ورسره وه چې پکښې به یو څو کتابونه او د نسخو نه ډک بوتلونه وو چې کله به کلي کښې ؤ نو زمونږ چوترې ته به راغلو، چوتره زمونږ د کور سره یو بې امامه جوماتګے ؤ چې د نهر په غاړه ؤ او ګڼ توتان پرې ولاړ وو او زما نیکۀ به اکثر پکښې ناست ؤ، د وزیر ګړۍ او ارمړو ټانګو ته به ئې کتل. د ارمړو وزیرګړۍ حکیم ګړۍ نه به خلق په ټانګو کښې پېبو بازار ته تلل او زمونږ د کلي په نهر به تېرېدل. اکثرو ټانګو کښې به ښځې وې خو دومره په پرده کښې به وې چې ټانګې وال به وروستو هم د ټانګې نه څادر تاؤ کړے ؤ او د دواړو سپټونو مېنځ کښې به ئې هم پرده لګولې وه. پلار به مې اکثر راغلو او نیکۀ ته به مې ئې بد رد وئیل. وئیل ئې تۀ د دې ټانګو چودري لګېدلے ئې، نیکۀ به مې کونټۍ را اوچته کړه وئیل به ئې دا ستاسو د لاسه خربیشوو.

اصل کښې هغۀ ته ډېره ګناه هم نۀ وه، ډېر وړاندې غریب کونډ شوے ؤ، ډېر ځل ئې د وادۀ خواهش ظاهر کړے ؤ خو زامنو نۀ پرېښو. زۀ خو به هسې هم د نیکۀ حمایت کوم ځکه چې ما سره ئې بې کچه مینه وه، هر چرته به ئې بوتلم او هر خواهش به ئې راله پوره کولو او په داسې حالت کښې چې پلار مې ډېر سخت کاڼے ؤ خو نیکۀ به مې ورته وئیل دا زما مشرے نمسے دے او ستاسو ورسره هېڅ کار نشته، بیا ئې وئیل دا خربیشوے په دې نۀ پوهېږي چې زامن د سړي باغ وي او د باغ بوټي ډېر په خوارۍ لوئے شوي وي او دا نمسي ئې بیا مېوه وي. خېر نظر بازي، خو چې داسې عمر کښې سړے کونډ شي نو څۀ به کوي او بیا لا چې ورته د ځان په شان ځلور پنځه کونډان نور او د پېریانو باچا غوندې حکیم هم ملاؤ شي هسې خو مې د نیکۀ دغه پنځۀ واړه ملګري د تماشو وو.

لکه یو پکښې د مقدمو ماهر ؤ او د کچرو وکیلانو، پټواریانو او افسرانو سره د معاملاتو قیصې به ئې کولې. بل پکښې په ځوانۍ کښې مجلسي پاتې شوے ؤ او د هغه بې شماره روماني قیصو راوي ؤ، چې پکښې بې شانه ښځې به هر وخت په دۀ مئینې وې. دریم چرته څۀ دفتر کښې چپړاسي پاتې شوے او د انګرېزانو او میمانو زبردستې قیصې به ئې کولې. څلورم په جنګ عظیم کښې  جاپان او برما لیدلي وو. پنځم به مړزان ساتل او د خپلو مړزانو د مېدانونو او جنګونو تذکرې به ئې کولې خو د ټولو نه دلچسپ کردار دغه د پېریانو باچا یعنې جمال کتاب خوان پلار ؤ، چې دوي ته به ئې د خپلو دمونو تعویذونو، پېریانو قیصې کولې او د طاقت نسخې به ئې ورته ښودلې او خاتمه به ئې په دې کوله چې تۀ بې غمه وادۀ وکړه بیا نور کار زما دے.

یوه ورځ ئې یوه نسخه ما واورېده، وئیل ئې یوه توله شینګرف به راوړې او په اوړو کښې به ئې ګډ کړې بیا به چرګه په هګو کښېنوې چې کم از کم دولس بچي ئې وي نو دغه د شنګرفو اوړۀ به په دغه

چرګه وخوروي چې خلاص شي نو بیا به ترې یو چرګوټې را ونیسي حلال به ئې کړي، هغه شان به ئې قیمه او په اوړو کښې ګډ کړي او په دې نورو چرګوټو به ئې وخوروي. داسې به هفته هفته پس یو یو چرګوټې په دې نورو خوروي، آخري کښې به صرف یو پاتې شي هغه به حلال کړي او ګولۍ به ترې نه جوړې کړي، دغه چې یوه وخوري نو لکه د حبشیانو به دې په رګونو کښې وینه نۀ وي، بلکې مړدې به وي. هم د دغه نسخې د برکته د هغۀ د وېنا مطابق د پرستان باچا د هغۀ دوست شوے ؤ.

د هغۀ اکثرو نسخو کښې به مشک، زعفران، عنبر، مرجان او یاقوت او سرۀ زر پکاربدل. خو چې چا به دغه څیزونه راوړل نو وئیل به ئې دا نقلي دي واپس ئې یوسه ماسره د پرستان د یو ښاپېرې د نسخې نه لږ پاتې دي، یا د هشنغر او مردان د خان د نسخې نه زیاتې شوې دي، هغه به درله پکښې واچوم.

دا خو بیا ماته ډېره موده پس هغه وخت پته ولګېده چې کله په قصه خانه کښې د شیخ پنساري سره مې ناسته پاسته وه، چې حقیقت څه ؤ، زۀ ناست وم ورسره چې دې کښې یو سړې داسې وړه شانې د وړې بلکې څرمنې غوټه راوړه، ورئې کړه پټې پټې خبرې ئې ورسره وکړې، پنساري ترې هغه شے واخستو او د ګلې نه ئې لس زره روپۍ ورکړې. زۀ حېران شوم چې دا څه بلا وه، آخر ئې راته ووې چې دا د مشکو نافه ده، هم دې سړي له مې دا پرون په دولس زره ورکړې وه، اوس راغلو وئیل ئې چې دا نقلي ده نو بس ما ترې دوه زره کټ کړې او نورې پېسې مې ورکړې، دا فیصله مې ورسره مخکښې کړې وه. ما ورته وئیل یار دا خو دې ډېر زیاتے وکړو نو غریب له به دې اصلي ورکړې وه، وئیل ئې دا هم اصلي ده خو دا د نسخو او تعویذونو واله طریقه ده چې دلته ئې صرف دې دپاره راواستوي چې قیمت ورته معلوم شي بیا ورته وائي چې دا نقلي دي واپس کړه ماسره د چا خان د نسخې نه پاتې دي، هغه به درله واچوم. هغه شکر وباسي ځکه چې د چا خان د نسخې اصلي مشک ورته په پنځۀ زره توله ملاؤ شي او دلته په دولس زره توله دي او هغه هم د هغۀ په قول نقلي دا د هغه وخت خبره ده چې ما په بانګ حرم کښې درې سوه روپۍ د میاشتې تنخوا اخستله.خدائے خبر چې اوس به مشک څۀ نرخ وي، سرۀ زر په هغه ورځو کښې دوه سوه روپۍ توله وو.

نور بیا

## یو نظر دې خوا

ادارہ

د باچا خان ټرسټ د څېړنې څانګې ته د لاندینیو خدائي خدمتګارو د ژوند پوره او تفصیلي معلومات پکار دي ځکه چې د باچا خان د څنګ، ننګ او پېرنګي استعمار خلاف د جنګ ملګري پاتې شوي دي او په خدائي خدمتګار تحریک کښې ئې د زړۀ له تله برخه اخستې وه، د ځانونو، مالونو او جائدادونو قربانۍ ئې ورکړې دي، د عدم تشدد په نظریه ټینګ ولاړ پاتې شوي دي، تشدد ئې ګاللے دے، جېلونه ئې تېر کړي دي او خپلې ځوانۍ ئې لَو لور کړې دي، کۀ څوک څېړنکار په دغه شخصیتونو کوټلي لیکونه کولے شي او مونږ ته ئې راواستوي نو مننه به ئې کوو. مونږ د دغو خدائي خدمتګارو څنې نامې لاندې درج کوو کۀ له دوي نه علاوه نور ښاغلي مشران د چا په خواوشا کښې داسې تېر شوي وي نو د هغوي په حقله هم خپل معلومات راستولے شئ. کۀ تصویرونه ئې پېدا کېږي نو دا به نوره هم غوره وي.

صاحبزاده خورشید د ادینه، علي اصغر د مردان، قاضي عطاء الله خان د مردان، سېد فضل لطیف د بدرګې، عبدالخالق خلیق د مانکي شریف، شاد محمد خان مېږے د رځړو چارسدې، فضل رحیم ساقي د وردګې چارسدې، عبدالمالک فدا د بابړې چارسدې، ماسټر عبدالکریم د اتمانزو چارسدې، ستي جان د چارسدې، احمد کاکا د بابړې چارسدې، مولوي تاج محمد خان د بغدادې مردان، مولوي عنایت الله د طورو مردان، راحت خان بابا د سخا کوټ ملاکنډ اېجنسۍ، رفیق شالدا د تانې ملاکنډ اېجنسۍ او کانګرسي کاکا، ډاکټر خان صېب، سالار یعقوب خان د بنو، کاکاجي صنوبر حسېن مومند د کږې ولې پېښور، امیرنواز خان جلیا د اتمانزو، امیرزاده خان د بخشالي ګجرات مردان، عبدالطیف